



# بریالي انسان

تألیف کوونکي : الحاج مولوي حبیب الله«معروفي»

بسم الله الرحمن الرحيم

# پرعلمي اثر کره کتنه

دشکرځای دی چی د اسلام او دین لپاره د بریالي انسان په نامهٔ رسالهٔ کرانوهیوادوالوته په چاپی بڼه وړاندی کیږی.الحاج مولوی حبیب الله«معروفی»صاحب په خپل دغه علمی آثرکی دانسان پربریالیتوب باندی خپل آثرلیکلی دی.اودخپل هوډیالي اتل ولس ځوانانو او ویښو ځچیانوته یې رڼاپه لاس ورکړی.اوپه روانه پښتو ژبه یې لویه علمی پانګه برابره کړیده.پرژوندداوځوانۍ یې برکت عمري ډیر.دارسالهٔ ورته مبارک او قلم یې لاتاند اوسه.ښاغلي معروفی دسپین بولدک،معروف،کندهار اوحتی دټول افغانستان په سطحه تکړه،بااستعداده او بااحساسه عالم دی.مادده دغه علمی لیکنه مطالعه کړه ډیرپه زړه پوری ګټور مطالب یې په کی ځای پرځای کړی دی.دانسان دژوند لپاره دغه یوه مناسبه رسالهٔ ده.الله تعالی دی دده هلي ځلی قبولی دخلکود استفادې وړ او صدقه جاریه وګرځوی. اوخدای«ج»دی نورهم توفیق ورکړی چی زموږ دغه خوار اومظلوم ولس ته خدمت وکړی.

والسلام

فضل الرحمان«معروف»

**سریزه**

الحمـــدالله رب العـــالمین والصـــلاة والســـلام عـــلی سیدالانبیاءوالمرســـلین محمـــدوعلی اله وصحبه ومن دعابدعوته الی یوم الدین.

وبعـد:دالله«ج»پـه مخلوقـاتوکی ترټولـو غـوره،دعزت اوکرامـت څښـتن مخلـوق انسـان دی.چـی له ملائیکوڅخـه یی هم الله«ج»مرتبـه پورتـه کړیـده.خوچی څـومره ئی مرتبـه لـوړه ده.پـه هماغـه انـدازه یی مسـئولیت هم زیات دی.انسـان بایـد پـه دې ځـان پـوه کـړی چـی خـدای«ج»زه دڅـه لپـاره پیـداکړی یم.پیغمـبران یـې موږتـه دڅـه لپـاره رالیـږلی دی اوزه څـه مسـئولیت لـرم.ددې مسـئولیت پیژنـدنی لپـاره هرانسـان بایـد یوڅـه کاروکړی.مـاهم دیومسـلمان پـه صـفت کلـه چـی پـه افغـانی ټولنـه کی دغـه تشـه ولیـــده ومـــی پتـــیله چـــی دالهـــی رضـــادلاس تـــه راوړنی دعامـــه مســـلمانانودخبرونې اودمسـلمان افغـان قـوم پـه ځـانګړی توګـه دپښـتنو لپـاره دغـه رسـالۀ تیـاره اوترتیـب کړم.ترڅوهغه په آسانی سره وکولای شی ګټه تری واخلي.

محترمومســـلمانانو ورونوکومـــه رســـالۀ چـــی ســـتاسی پـــه لاس کیده.یوانســـانی کوښـــښ دی ډیـرې خطـاوې بـه ولـري له لوسـتونکو څخـه پـه ډیـر احـترام غوښـتنه کوم چـی خپلـو خطاګـانو تـه مـې متـوجی او راتـه پـه ګوتـه یی کـړی.الله تعـالی دې پـه خپـل دربار کی قبـــــول او پـــــه دغومســــــــائلودعمل کولوتوفیــــــق را پـــــه برخـــــه کـــــړي. وصلی الله تعالی علی خیر خلقه محمدوعلی اله وصحبه اجمعین

الحاج مولوی حبیب الله«معروفی»

# بریالي انسان

## دانسان د دنیا او آخرت د بریالیتوب او کامیابی نسخه

۱ـ عقل

۲ـ علم

۳ـ عمل

۴ـ اخلاص

۵ـ آداب

دا یو حقیقت دی چی هر انسان د عزت او شرافت ژوند غوره کول غواړي.داسی انسان به پیدانشی چی ځان ذلیله او خوار غواړي.

که موږ په ټولنه کی په غور او ځیر سره وګورو نو وبه وینو چی هر سړی به تر خپل توان، قدرت او حال پوری دخپل ځان دعزت طلب کوی.په پښتو کی یو متل دی چی وائي

دبنګئ څخه چا پوښتنه وکړه چی ته هم سیال لرې؟ هغه ورته وویل ترخپله حاله!

په دی خاطر موږ وینو چی په معاشره او ټولنه کی یو ډیر غریب سړی به وی . بیا به هم هغه په غم او ښادي کی کوښښ کوی چی ځان دسیال سره سیال او برابرکړی.البته دعزت دپیداکیدو لپاره

دوې طريقې او لارې دی:

چې يوه طريقه يې دمال او دولت ده. او دوهمه طريقه يې دغه ذکر شوی پنځه صفات دي. هغه عزت چې سبب يې مال او دولت وی هغه عزت ته عارضي عزت وائي.علت يې دادی چې مال او دولت داسی دي لکه د انسان سيوري(سايه).کله په مغرب لس متره غځيدلی وی کله پرمشرق،کله تر پښو لاندی شی،کله ورک او ختم شی.مال او دولت هم همداسی دی کله سړی باچا،وزير او ميليونر کړی او کله بيا سړی و دار ته ترې.ځرنګه چې مال او دولت باقی او تل پاته نه دی نو هغه عزت يې هم تل پاته نه وی. او آخرت کی خو مال او دولت نه وی او نه هم ګټه او فايده لری.بلکی دغاړی طوق به وی. ارشاد ربانی دی«يَوْمَ لَاَ يَنْفَعُ مَالٌ وَّ لَا بَنُوْنَ اِلَّا مَنْ اَتَى اللّٰهَ بِقَلْبٍ سَلِيْمَ»ژباړه: په هغه ورځ نه مال او نه زامن فايده لری مګر هغه څوک چې خدای ته راغلي په سالم زړه سره د سالم زړه څخه مراد اسلام او عقيده ده. هغه عزت او ابرو چې علت يې دغه پنځه شيان وی هغه به تل باقی او پاته وی.په دنيا او آخرت کی به د هغه عزت او درناوی کيـــــــــــــــــــږی وي.

**لومړي ـ عقل:** د هغه صفاتو څخه لومړی صفت عقل دی. عقل په لغوی معنا مأخوذ يعنی اخيستل شويدی. د **عَقَلَ نَاقَةٌ** څخه هغه اوښه چې په پيزوان بنده وی عقال هغه پيزوان دی چې حيوان په حصار وی.لکه څرنګه چې په **عَقَالَ** حيوان په کنټرول کی راځی همداسی دعقل په سبب انسان په کنټرول کی راځی.په همدی خاطر عقل په ټول مخلـــــــــــوق کی بهـــــــــــــترين او غـــــــــــــوره مخلـــــــــــــوق دی.

ارشـــاد نبـــوی دی«اَوَّلُ مَـا خَلَـقَ اللّٰهُ الْعَقْـلَ» پـه بـل ځـای کی نبـوی ارشـاد دی «لَمَّا خَلَقَ اللّٰهُ الْعَقْلَ قَالَ لَهُ قُمْ فَقَامَ ثُمَّ قَالَ لَهُ اَدْبِرْ فَاَ دْبَرَ ثُمَّ قَالَ لَهُ اَقْبِلَ فَاَ قْبَلَ ثُمَّ قَالَ لَهُ اُقْعُدْ فَقَعَدَ ثُمَّ قَالَ لَهُ مَا خَلَقْتُ خَلْقًا هُوَ خَيْرٌ مِّنَکَ وَلَا اَفْضَلَ مِنْکَ وَ لَا اَحْسَنَ مِنَّکَ بِکَ آخُذُ وَ بِکَ اَعْطِيْ» ژباړه:الله«ج»چې کوم وخت عقل پيداکړی ورته وويل اوچت

شه«ولاړشه»فوراً ولاړشو بیایي ورته وویل وګرځه هغه فوراً وګرځیده بیایي ورته وویل راوګرځه هغه فوراً راوګرځیده.بیایي ورته وویل کښینه هغه فوراً کښیناستی بیایي ورته وویل مانه دي پیداکړې مخلوق تر تا افضل او غوره. او نه می دی پیداکړی ترتا ښائسته او ښکلی.ستا په واسطه به زه آخذ کوم او ستا په ذریعه به زه ورکړه کوم.
بی بی عائشه«رض»د نبی کریم«ص»څخه پوښتنه وکړه چی چی دآخرت په ورځ به خلګو ته درجی په کوم حساب ورکول کیږی.نبی کریم«ص»ورته وفرمائل دعقل مطابق.بی بی عائشه«رض»حیرانه شوه او بیایي ورته وویل ای دالله رسول«ص»دعقل مطابق به وی؟ پیغمبر«ص»ورته وویل سړی دومره عمل کوی څومره چی ئې عقل وی. اوس پوښتنه پیداکیږی چی دجنت درجی دعقل په تفاوت دی.نو په نړی کی ډیر عاقلان،دانش وران،سیاستمداران،قانون پوهان،فیلسوفان اونور پوهان شته نو جنت به ټول دهمدغو خلګو وی؟ حال داچی هغه ایمان نه لری نو دجنت درجی به دګومه وی! ددی وهم جواب دادې چی د دوې عقل کامل نه دی بلکی عقل نه دی دا د دنیا پوهه ده.
د دنیاء پوه: ارشاد ربانی دی«أُوْلئِکَ کَا الْاَ نْعَامِ بَلْ هُمْ اَضَلَّ»ژباړه:دغه ددنیا پوهان په مثال دچارپایانو دی بلکی تر حیواناتو هم بدتر دی. که موږ په غور او دیقت سره فکر وکړو نو دابه راته معلومه شی چی عقل پر دوه ډوله دی:
۱ــ عقل معاش ۲ــ عقل معاد
**۱ـ عقل معاش:** هغه عقل دی چی هر شی ته په نظر د دنیا ګوری په دین کی هم مطلب او طلب ددنیا وی.حتی که ورته ووائي چی د تهجد لمونځ کوه،قرآن تلاوت کوه او نور ذکر او اذکار کوه چی ډیر اجر او ثواب لری نو همدې خلګو ته دآسمان ختل وی اما که ورته ووائي چی د تهجد لمونځ وکړه او یا دغه کلمات زر کرته و لوله دنیاوی کارونه به دی برابر شی بیا همدغه خلک د تهجد لمونځ هم کوی کلمات او نور ورته ښودل شوی کارونه چی ددنیا ګټه پکی وی که هر څومره ګران هم وی کوی یې.چی په دین کی ددنیا غوښتونکی

وی دي ډول عقـــل تـــه عقـــل معـــاش وائي.
**۲ـ عقل معاد:** ددې عقل خاوندان و هر شی او کار ته په نظر د آخرت ګوری په دنيا کی چی هر عمل او کار تر سره کوی مدنظر او مطلب ئې آخرت وی. که سياست کوی،که حکومت کوی،که معاملات او تجارت کوی،که ذکر او اذکار کوی،که عبادت او تسبيحات کوی او که نور کارونه تر سره کوی په ټولو کی موخه او هدف آخرت وی چی دي ډول عقل ته عقل معاد وائي. وائي زليخا د هر شی نوم يوسف ايښودلی وو.چی دهر شی نوم به اخيستلو يوسف ور ياديدې.همداسی دعقل معاد خاوند چی هر عمل تر سره کوی الله او آخرت ورياديږی.داخبره دياوونی وړده چی عقل په يواځيتوب سره کار نه شی کولای چی علم ورسره ملګری نه وی.که عقل يواځی کار کولای شوای نو الله«ج»به انبياء«ع» نه راليږل،او نه به يې کتابونه رانازول.
داځکه چی په انسان کی څلور قوی موجودی دي. چی عبارت دی له
۱ــ دعقل قوه ۲ــ دغضب قوه ۳ــ د حرص قوه ۴ــ د شهوت قوه.
داسی پيښي کيدای شی چی دغه نوری قوی پر عقل غالب شی او عقل مغلوب کړی نو موږ وينو چی انسان کله قتل کوی کله زنا کوی کله غلا کوی.چی داهر کار دعقل تقاضا او غوښتنه نه ده.خو دلته عقل مغلوب شويدی.نوددی څخه معلوميږی چی عقل يواځی کفايت نه کوی چی علم نه وي.
**دوهم ـ علم:**دوهم ضروری او لازمی شی چی د انسان لپاره دی هغه علم دی دعلم غوره والی او بهتری پر مال او دولت باندی په ډيرو دلايلو سره ثابت دی.چی دلته يو څودتيرو زمانو او وختونو د علم او مال مثالونه راوړو.
۱ــ علم دانبياء عليهم السلام ميراث دی مال او دولت د قارون او فرعون ميراث دی.
۲ــ علم دانسان حفاظت او ساتنه کوی خو دمال او دولت ساتنه او حفاظت به انسان خپله کوی.
۳ــ په علم سره انسان مال لاسته راوړې شي خو په مال سره انسان علم نه شی لاسته

راوړي.

۴ـ دمال او دولت دزیاتیدو له وجی فرعون ویلئ وو:«اَنَارَبُّکُمُ الْاَ عْلٰی» د علم پـه زیاتیـدو سره امام ابوحنیفه«رح»ویلئ ؤو

:«مَاعَبَدْنَاکَ حَقَّ عِبَادَتِکَ وَمَاعَرَفْنَاکَ حَقَّ مُعْرِفَتِکَ» البته پـه مـال سره ډیر کارونه کیدای شي څرنګـه چـی متـل دی وائي:چـی مـال وی دزمـری پـئي بـه هم واخیسـتل شي. پـه مـال سره هم ډیرکارونه کیدای شي

مــــــــــثلاً:

۱ــ پـه مـال سره انسـان سـترګی اخیسـتی شي مګـر نظرنشـی پـری اخیسـتلی.

۲ــ پـه مـال سره انسـان کتـاب اخیسـتی شي خـو عـلم نشـی پـری اخیسـتی.

۳ـ پـه مال سره انسـان بنـه بسـتره اخیسـتی شي خـو خـوږ خـوب نشـی اخیسـتی.

۴ـ پـه مال سره انسـان ښائسـته جـامی اخیسـتی شي خوښائسـت او زینـت نشـی اخیسـتي.

۵ـ پـه مـال سره انسـان نـوکر کورتـه راویسـتلی شي مګـر نیـک اولاد نشـی راوسـتلي.

۶ــ پـه مـال سره دخلکـو هرکلـي اخیسـتی شي خـو دچـا دزړه محبـت نـه شي اخیسـتی.

۷ـ پـه آخـرت کی مـال هـیڅ ګټـه او فایـده نـه لـری «یَـوْمَ لَایَنْفَـعُ مَـالٌ وَّلَا بَنُـوْنَ»

۸ــ علـماء وائي چـی دعـالم لپـاره دمسـجد جـارو کـول مکـروه دی ځکـه چـی پـه عـالم کی د خـدای«ج»صـفت شـته چـی هغـه عـلم دی.پـه مسـجد کی دخـدای«ج»صـفت نشـته. الله «ج»حضرـت آدم«ع»دملائکــو «ع»مســجود وګرځاوی.سـبب يي عــلم وؤ. لکــه:

«وَعَلَّمَ آدَمَ الْاَ سْمَاءَ کُلَّهَا»زمـوږ لپـاره فکـر کـول پـه کاردی چـی آدم«ع»دشـیانو دنومونـو دعـلم پـه سـبب مسـجود دملائیکـو شـو.نو هغـه عـالم چـی دخـدای«ج»دصـفاتو علم لـری هغـه بـه ولی دلویـو درجـو خاونـد نـه وي. حضرـت یوسـف«ع»چـی دفـرش څخه وعـرش تـه دغلامـی څخـه وباچـاهي تـه ورسیدي.سـبب ئي عـلم وو«وَکَـذَالِکَ مَکَنَّالِیُوْسَـفَ فِی الْاَرْضِ وَلِنُعَلِمَّـکَ مِــــــــــــنْ تَأْوِیْـــــــــــــــــــلِ الاَ حَادَیْــــــــــثَ»

حضرـت سـلیمان«ع»تـه الله«ج»دانسـانانو ،پیرانانو ،هواء اومرغـانو پاچـاهی ورکـړه سـبب ئي

علم وو.«يٰۤاَ يُّهَا النَّاسَ عُلِّمْنَامَنْطِقَ الطَّيْرِ» حضرت نبی کریم«ص»دکوننو سردار جوړ شو سبب ئی علم وؤ.«وَعَلَّمَکَ مَالَمْ تَعْلَمْ وَكَانَ فَضْلَ اللهِ عَلَيْکَ عَظِيْماً»

يادونه:لکه څرنګه چی دعقل لپاره علم ضروری او لازمی وو همدارنګه دعلم لپاره عمل ضروري دي.

**دریم ـ عمل:** څرنګه چی په علم سره عمل ونه شی دهغه مثال د سپي دی.ارشاد ربانی دی:«فَمَثَلُهٗ كَمَثَلِ الْکَلْبِ» هغه عالم چی په علم سره عمل ونه کړی مثال ئي دسپي دي.ارشاد ربانی دی:«كَمَثَلِ الْحِمَارِيَحْمِلُ اَسْفَارًا» په علم چی عمل نه وی شوی دا داسی مثال لری لکه څراغ چی ډک کړی او روښانه ئي نه کړی.ډک څراغ فایده نه لری ترڅوچي روښانه شوی نه وی.علامه ابن سيرين«رح»ته یوسړی خوب بیان کړی.چی وموليدل چی دخنزیر«خوک»په غاړه ملغلری ور کوم.ابن سيرين«رح»ورته وويل چی وناا‌هل انسانانو ته علم مه ورښيه.ځکه علم دقدر او عزت شئ دی. نو بی قدره او بی عزته خلکو ته مه ورکوه.

يادونه: څرنګه چی دعلم سره عمل ضروری وو همدارنګه دعمل سره اخلاص هم ضروری دی.

**څلورم ـ اخلاص:** حضرت جبرائیل«ع»د حضرت محمد«ص»څخه پوښتنه وکړه«مَاالْاِحْسَانُ قَالَ اَنْ تَعْبُدْ رَبَّکَ كَاَنَّکَ تَرَاهُ فَاِنْ لَّمْ تَكُنْ تَرَاهُ فَاِنَّهُ يَرَاکَ» ژباړه: اخلاص څه شی دی؟ نبی کریم«ص»ورته وفرمائل دخدای«ج»عبادت کوه په داسی طریقه لکه ته چی خدای وینی که ته خدای«ج»نه وینی خدای«ج»خو تا ويني.داخلاص په ضریعه کله انسان هغه ځای ته ورسیږی چی پیرانان نه شی رسیدلای.په قرآن عظیم الشان کی واقعه ده د«آصف بن برخيا»په نامه.کوم وخت چی حضرت سليمان«ع»د بلقیس تخت راوړې نو خپل ممبران د اسمبلي يي راوغوښتل ورته وويل:«اَيُّكُمْ يَاْتِيْنِیْ بِعَرْشِهَا قَبْلَ اَنْ يَّاْ تُوْنِيْ مُسْلِمِيْنَ»ژباړه: په تاسو کی څوک شته چی ماته د بلقیس تخت دهغه د را رسیدو څخه وړاندې راوړي؟ «قَالَ عِفْرِيْتٌ مِنْ الْجُنَّ»دپیرانانو مشر

وويـل:**«اَنَاءَتِيْـکَ بِـهٖ قَبْـلَ اَنْ تَقُـوْمَ مِمَقَامِـکَ»**ژباړه: زه درتـه راوړم مخکې تـر دې چې تـه له خـپله ځایـه ولاړشې. حضـرت سـلیمان«ع»ورتـه وویـل دا ډیـر وخـت دی.تـر دې وړانـدې ئې څـوک راوړې شي ؟ **«قَـالَ الَّذِیْ عِنْـدَهٗ عِلْمٌ مِـنَ الکِتَـابِ»** ژباړه:وویـل هغـه چا سره چې دکتـاب علم وی.آصف بـن برخیا وویـل:**«اَنَاء اِلَیْـکَ بِـهٖ قَبْـلَ اَنْ یَّرْ تَـدَّاِلَیْکَ طَرْفُکَ»**ژباړه: زه بـه ئې دسـترګو د رپ څخـه مخکې راوړم.**«فَلَمَّـا رَاٰهُ مُسْـتَقَرًّ عِنْـدَهٗ قَـالَ هـذا مِـنْ فَضْـلِ رَبِّیْ»**د عفریت غونـدی پیری ناکام شـو او د آصـف بـن برخیـا غونـدی انسـان بـریالی شـو دا د اخـلاص برکـت ؤ. پیغمـبر«ص»او حضـرت ابوبکرصـدیق«رض»دثـور پـه غـار کې وؤ.چـې کفـار راغلـو دغار خـولې تـه ابوبکرصـدیق«رض»وویـل یا رسـول الله کـه دوی خپلـو پښـو تـه وګـوری نـو مـوږ بـه ووینی.پیغمـبر«ص»ورتـه وویـل**«لَاتَحْـزَنْ اِنَّ اللهَ مَعَنَـا»**ژباړه: تـه مـه غمجــــــــن کیـــــــږه الله«ج»زمـــــــــوږ سره دی.دې تـــــــه وائی اخـــــــلاص.

یادونـه: لکـه څرنګـه چـې د عمـل سره اخـلاص ضروری ؤ.همدارنګـه د اخـلاص سره اَدَبْ هم ضروری او لازمی دی.

**پنځم ـ آداب:** کـه پـه انسـان کې دعلم کمی وی نـو هغـه کمی پـه آداب سره پوره کیږی.خـو د آداب کمی پـه علم سره نـه شي پـوره کیدای.سـوء آداب ډیـر خطـرناک عمـل دی.ځکـه د سـوء آداب او شرک پـه وجـه انسـان کـړی اعـمال حبطـه او له منځـه ځي.امـام ربانی مجـددالف ثانی فرمـائي زه د احـادیثو پـه لیکلـو اختـه وم.قلم کار پریښـود او نـه چلیـده.ما قلم پـر خـپله ګوتـه ووهی.تـر څـوکار شروع کـړی. هغـه رنګ زمـا پـر ګوتـه پریوت. پـه دې حالـت کې زه د تقاضأ لپاره بیت الخلاء تـه ولاړم. کله چې زه هلتـه کیناسـتم ما هغـه د قلم رنګ پـر ګوتـه ولیده فکـر راسره پیداشـو کـه تـه تقاضأ وکـړی بیـا لاس پرېمنځی نـو هغـه د قلم رنګ بـه دهغـه ګنـده اوبـو سره یـو ځـای شي. نـو دا د آداب خـلاف کار دی نـو زه را ولاړشـوم لاس مـی پرېمنځی او بیـا می هغـه حاجـت پـر ځـای کړ.نـو وروسـته راتـه الهام وشـو چې د الله«ج»د طـرف پـر تا د جهنم اور حـرام شـو.دا زیـری او بلنـدی د آداب برکـت وؤ.چـې هغـه ئې د جهنم څخـه خـلاص کـړی.د امام مالـک صـاحب پـه زمانـه کې ډیـر ظالم،جابر او فاسـق سـړی

ؤۀ.چې یوه ورځ امام مالک صاحب پر واله ناست دی اودس کوی.او هغه ظالم کس د والي په لوړ سر کی ناست دی اودس کوی.پدی وخت کی دغه ظالم کس ته فکر ور پيداشو چی د وخت امام زما څخه کښته اودس کوی او زه ئي لوړ تازه کوم نو دغه زما اوبه پر هغه امام ور ځي.نو دا کار بی آدبی ده.او هغه نفر را ولاړ شو او د امام صاحب څخه کښته اودس تازه کړی.څو وخت وروسته دغه ظالم کس وفات شو.د هغه وخت ولی او بزرګ خوب وليده چی دغه ظالم کس په جنت کی ګرځی.هغه بزرګ پوښتنه تری وکړه چی ته خو داسی ظالم وی ته دلته په جنت کی څه کوی؟هغه ظالم کس ورته وويل يوه ورځ ما ددين په خاطر دعالم آداب وکړی.الله«ج»دهغه آداب په بدله کی ماته جنت راکړی.حضرت موسي سره د «۷۰۰۰۰» اويا زرو جادوګرو مقابله وه.جادوګران سره را ټول شول مشوره ئي وکړه چی دموسی«ع»سره به څه چل کوی.پدی وخت کی يو زاړه او بوډا جادوګر ودويي ته وويل د موسی«ع»سره آداب وکړی تاسو ته به ګټه ورسوی.دوی وويل ښکه آداب ئي وکړو.هغه بوډا ورته وويل لومړی د حضرت موسی«ع»څخه اجازه واخلی چی ته لومړی لوبه پيل کوی او که ئي موږ پيل کړو.دوی هم داسی وکړل.حضرت موسی«ع»ورته وويل «بَلْ اَنْتُمْ مُلْقُوْنَ »تاسوئي پيل کړی.ددغه آداب په وجه هغه«۷۰۰۰۰»اويازرو جادوګرانو ته الله«ج»ايمان ورپه نصيب کړی.چی پر سجده پريوتل او په جنت کی خپل ځايونه وليدل.

يوه حيرانوونکی واقعه:يو ليک ليکوونکی ؤۀ.چی قرآن پاک به ئي ليکلو هغه خپله مشاهده بيانوی او ليکی چی مابه کله قرآن مجيد ليکه نوهر ځل چی به ما قلم را او چتوؤ نو يو نه يو مچ به د قلم پر هغه رنګ باندی کيناستو ما شپيته«۶۰»قرآن شريفونه ليکلی دی په دغه ټولو قرآن شريفونو کی به دغه مچ راتلو او ددغه قلم پر رنګ به کيناستلو د ښنولو لپاره او هغه به ئي ښنل.خو کوم وخت به ما دغه آيات ليکلی«وَلَاتَقْرَبُوْمَالَ الْيَتِيْمِ»ژباړه:د يتمانو مال ته مه نژدی کيږی.په دغه شپيته«۶۰»قرآن شريفونو کی يو ځل هم نه دي راغلی چی پر دغه رنګ باندی کښيني.او هغه وښښي.دا د الله«ج»حکم دی چی

يـو مـچ غونـدى كوچنى موجـود ئي هم آداب كوى.اوهغـه رنـګ ښښـل نـه خوښـوى.په داسى حال کی چی دغه حـکم دانسان لپاره دى او انسان تـه هغـه حـکم شـويدى.اوهغه مچ لپاره نـه دى.نـو آداب دانســان لپــاره ډيــر مهــم او اړيــن دى.ځکــه داســلام ســتر پيغمبرحضرــت محمـد«ص»فرمـائلي«بُعِثْـتُ لِاُتَمِّـمَ مَـكَارِمُ الْاَخْـلَاقِ»ژباړه:زه ددې لپـاره رالیـږل شـوی یم.چی خلکـو تـه اخـلاق ور وښـيم.ځکه دا شرعی مسـئله ده چی پـه سـوئ آداب سره دانسـان د سـلو«۱۰۰»کالــو کــړيي عبــادت حبطــه او له منځــه ځي.دغــه پنځــه ذکــر شــوی شـيان(عقل،علم،عمل،اخلاص او آداب)چـی پـه کـوم انسـان کی موجـود اويـو ځـای شی.پـه هغـه انسـان کی يو طاقت موجود شی چی ددغه انسان څخه د صحابه کرامـو«رض»پـه شـان انســـان جوړشی.نـــوهر يـــو ديـــو ټـــولنی او هيـــواد لپـــاره پـــه شـــان د حضرـــت عمرفــاروق«رض»وی.چــی حــکم ئي پرځمکه،سمنــدرونو،بادونو او هــواء بانــدی جــاری او تطبيــــــــق کيــــــــږی.

۱ــ دحضرـت عمـر«رض»حـكم پـر هواءبانـدی: يـو ورځ عمرفـاروق«رض»پـر ممـبر ولاړ ؤؤ وفرمائـل:«يَاسَـارِيَةَالْجَبَلُ»ژباړه:اي سـاريه دغـره خواتـه پـام كوه.هواءدهغـه پيغـام دژبی څخـه واخيســــتلو اودهغـــه لښـــکر امـــير تـــه ئي ورســـاوه.

۲ــ پـر اور حـكم: يـو وخـت دمـدينی منـوری څخـه بهـر اور لګيـدلی ؤ.هغـه اور دمـدينی منـوری طــرف تــه دنــژدی کیـدو پـه حـال کی ؤ.حضرـت عمـر«رض»يـو صحـابی تـه خـادر«پټـو»ورکـړی اوحکم ئي ورتـه وکـړی چی اور خپـل ځـای تـه ورسـوه.هغه صحـابی پـه هغـه پټـو«څـادر»هغـه اور واهـه او اور ئي خپـل ځـای تـه ورسـاوه.

۳ــ پرځمکـه حکم:يو وخـت پـه مـدينی منـوری بانـدی زلـزله راغـله حضرـت عمـر«رض»پرځمکـه دُوره و وهـله او ورتـه وويـل اې ځمکی تـه ولـې ښـوريږ«حركت كوى»آياحضرـت عمـر سـتا دپاسـه عـدل نـه دی کـړی! دځمکی ښـوريدل فـوراً بنـد شـو.او دقيامـت تـر ورځـی بـه بيـا پـه مدينه منوره زلزله رانه شی.

۴ــــ پــر اوبــو حــکم: حضرـت عمرفــاروق«رض»تــه یــوورځ دمصرــ والــې عمــرابن العــاص«رض»یولیــک ولیکــی پــه لیــک کی لــیکل شــوی ؤؤ:چــی ای امیرالمـؤمنین صــاحب دنیـل سـیند هـرکال داوبـو دجـریان سـاتلو لپـاره یـوه حلیـه داره ځوانـه جینکـی غواړی.حضرـت عمر«رض»دلیک په جواب کی لیک ورته ورکړی چی دغه لیک په نیل کښې واچوه په لیـک کی لـیکل شـوی ؤ:آي نـیله کـه تـه دالله«ج»پـه حـکم سره چلیـږې نـو زه پـر ځمکـه دالله«ج»خلیفه یم.زه درتـه وایم وچلیږه او کـه پـه خپله خوښـه چلیږې بیـا نـو ودریږه.کلـه چـی عمـرابن العـاص دامیرالمـؤمنین لیـک پـه نیـل کی واچاوه نیـل تـر اوسـه او حـتی تـر قیامـت تـر ورځـی بـه ډک روان وی.او تاریخ لیکلی دی چی د قیامـت تـر ورځـی بـه نـه زیاتیـږی نـه بـه کمیـږی او نـه بـه سرکشـی کوی.حضرـت سـلمان فـارسی«رض»تـه میلمـه راغـلی هغـه دکوره ورتـه را ووت هوسیٖ تـه ئي اشـاره وکړه هغـه ورتـه راغـله میلمـه تعجـب وکـړی سـلمان فـارسی ورته وویـل کلـه چـی انسـان دخدای«ج»تابع شي نو ټـول مخلوق بیـا دهغـه انسـان تابع کیږی.

**تمت باالخیر**

## دتألیف کوونکي مطالبه او غوښتنه

زمــادډېرلو مســـلمانانوڅخه داهـــیله او امیـــد دی.چـــی دغـــه پنځـــه شـــیانو څخـــه کارواخلی.دهغـه لپـاره بـه آمـن او آمـان وی هغـه بـه خـوښ خوشحـاله وی.ددیـن او دنیـا کامیـایَ بـه ولری.غلامـی بـه نـه وی آزاده آزادی بـه وی.دډېرولـو انسـانانو بریالیتـوب پـه دیـن کیدی.ځکـه دا زمـوږ عقیـده ده.چـی یـوداسی ورځ راتلـوونکې ده. چـی ددې نـړی سـامان آلات او وســائل چـی پـه نـړی کی ورڅخـه کار اخیســتل کیږی.فـانی او له منځه به ځي. یعنی حضرت عیسی«ع»به راکښـته کیږی.

والسلام علی من اتبع الهداء

الحاج مولوی حبیب الله«معروفی»

آداب اخلاص عمل علم عقل

# بريالي انسان

*Progenitor : Alhaj Mowlawe Habibullah ”Maroofi”*